# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد  بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم  از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com  www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



داحمدشاه وردگ ژباړه


۱۴ جون ۲۰۱۲

## پنتاگون په کابل کی په کومو موخو پسی دی؟

دافغانستان اوامریکی ترمنځ په لاسلیک شوی ستراتیژیک تړون کی، په پراخه پیمانه  څنډ تلنی (حاشیه روی)  شته کومی چی دامریکایی ددیپلوماسی (اود بل  هرهیواد) ځانګړتیاوی ځرګندوی، ددی هیواد کمزورتیا هم په ډاګه کوی، یعنی په اوس وخت کی شرایط په دی ډول دی چی امریکایان اړدی ترڅو خپلی موخی ددی تړون په حاشیوی لفاظیوکی پتی کړی، ترڅوحساسیتونه راونه پاروی.

دنوموړی تړون ۸۰ سلنه حاشیې بلل شوی اودخندا وړخبره خو داده چی دامریکی غوښتنی حتی همدا حاشیې هم تریپنتو لاندی کوی.

په هرصورت،  لیکونکی زیار ایستلی ترڅو دا تړون  ترڅیرینی لاندی ونیسی اودهغی پټی برخی بربنډی کړی اوله بلی خوا داپه ډاګه کړی چی که داتړون دمقابل لوری(کابل) لخوا ومنل شی څه پایلی به له ځان سره ولری.

امریکایي چاړواکودهغه تړون په لیکلوکی چی د« افغانستان او امریکی ستراتیژیک تړون» نوم ورکړل شوی، دومره هنر نمایی کړی چی واقعا انسان حیرانوی اوهیڅ داغراق ځای ندی چی وویل شی په نومړی تړون کی داسی پټ  دیپلوماتیک ټکی شتون لری چی دسیاست او نړیوالوقوانینو استادان باید دهغوی څیړنی دښوونځیو په ټولګیو کی وکړی.

که چیری ددی ۹ مخیزستراتیژیک تړون پانی پسی راواړووواودیوه «هرم ډوله قیف» ته یی ورډننه کړو ترڅو دهغی ارزښت لرونکی برخی له څنډو او مخلیکونوڅخه بیلی کړو دیو څو پاراګرافو پرته یکی څه نه لیدل کیږی ، نو دحیرانی سره به مخ شو.

دایو منل شوی اصل دی چی  دیوه لیک، یوه مطلب اویا یوه کتاب په لیکنه کی له داسی کلماتواوعباراتو څخه کاراخیستل کیږی چی مخاطب لوری تر اغیزی لاندی راولی اولیکونکی داسی استدلال وکړی چی لوستونکی یوه خاص لوری ته په ټګ متقاعد اوله خپلو آندونو سره مل کړی.

دنورو خلکو متقاعدکول اوپردوی خپل نظر منل ځانته لاری لری چی په هره برخه کی یوله بله جلاوی، دمثال په توګه دسیاسی علومو په تخصصی مجلو کی اشاری، تلمیحات، لف اونشر اوشعری توکی نه استعمالیږی. همدارنګه په شعرکی وچ علمی او څیړنیز مفاهیم ځای نلری. ولی کله چی خبره د سیاست اودیپلوماسی یاده شی چیرته چی دکار ډول په کلی توګه بدلیږی. په غیر دیپلوماتیکو برخوکو لکه دمقالو اویا علمی کتابونو په لیکنه کی چی لیکوال په هیڅ ډول دمقابل لوری دغولولو هڅه نشی کولای اوکه یی وکړی نو ضروربه رسوا کیږی اودلیل یی هم دادی چی یوه لړی قوانین او مکانیسم شته چی که هغه په ریښتینی توګه منعکس نشی نو ناوړه پایلی به ولری.

ولی دبهرنی سیاست او دیپلوماسی حوزه دنورو حوزو سره بیل دی، ځکه دلته مخاطب دخلکو ولسونه دی. اودهغی پایلی هم په شرایطو پوری اوهم په دی چی کوم کسان اویا کوم هیوادونه دپیښی ترشادی ولاړدی،ترلی دی یودبل سره فرق لری، اوکه دیوه مهم قرارداد لکه(دافغانستان اوامریکی ترمنځ ستراتیژیک تړون) په اړه خبره وی ، نو دیوه ملت راتلونکی داوږدی مودی لپاره بدلون مومی.

په دی ډول تړونونو کی دډوکه کولو کچه هم یودبل څخه فرق کوی، که دافغانستان دولت دچین سره تړون لاسلیک کړی نو دتړون متن به خوامخوا دافغانستان اوامریکی ترمنځ له تړونه روڼ اوصاف وی. وروسته به روښانه کړو چی دامریکی متحده ایالتونو ددی لپاره چی په افغانستان اونړی کی دخلکو افکارپه بله واړوی، په دی ۹ مخیزه تړون کی څومره لفاظی کړی اوپه دی اصل «تکراریی کړی ترڅومخاطب باوروکړی»په ډه ډه لګولو سره څوځله «دافغانستان ملی حاکمیت ته درناوی» اویا د«متقابل درناوی» خبری تکرارکړی دی. داپه داسی حال کی ده چی که دتړون ټولی خواوی عملی شی نو افغانستان به یوه تحت الحمایه( تروزرلاندی) هیواد بدل شی!

**متن اوڅنډی:**

دستراتیژیک تړون مخلیک(لومړی برخه) چی دښکلوټکو اوږده وړونکو مطالبولکه، وده، پرمختګ، په نړی کی دسولی اوامنیت ټینګښت اونور څخه ډک دی غواړی جوته کړی چی افغانستان باید دامریکی داوسنیو اوراتلونکو دښمنانوپروړاندی ددی هیواد اوږدمهاله ننګه اوملاترکوکړی.

باید په ډاګه شی چی که چیری یوازی همداپورتنی جمله دعمل جامه واغوندی نو دافغانستان دخپلواکی، ملی حاکمیت او دموکراسی تجربه ټول شی اودغه هیواد ددی پرځای چی دخپلو ګاونډیانو سره منطقی او دښه ګاونډیتوب اړیکی ولری، اربه وی چی دخپلو خلکو پرځای دواشنګټن فرمان ته غوږونیسی. دامریکایانو اراده داسی ده چی دکابل دولت دخپلو ګاونډیانو سره دافقی اړیکو پرځای دواشنګټن سره عمودی اړیکی ولری اودخپلو افقی اړیکو لپاره باید له مرکزه(واشنګټن) نه اجازه واخلی.

په دوهمه برخه کی دواشنګټن غوښتنه داده چی « دکابل دولت باید اجازه ورکړی ترڅو امریکا هرکله چی وغواړی ددی هیواد په کورنیو چارو کی مداخله وکړی»، البته امریکایانو په دی برخه کی ډیر روڼتوب(صراحت) پکاراچولی اودکابل له دولت څخه غواړی ترڅوهغه ارزښتونو لکه دبشر حقوق، نړیوال تړونونه، خپلواکه مدنی ټولنه او دموکراتیکو کړنو ته پایبند وی. دچارو شنونکی په دی ټکی ښه پوهیږی چی نومړی مفاهیم څومره ګونګ اودڅیړنی وړدی چی پخپله په افغانستان کی دامریکی دهرډول لاس وهنی لپاره لاره اواروی.

دتړون جوړونکو ددی پرځای چی یوه جمله په دی هکله ولیکی ۱۳ کرښی یی په ښکلو کلماتو سره ډکی کړی دی. دریمه برخه دامریکی په عملیاتو، اودکابل دولت دیوه کال په موده کی دیوی«دوی اړخیزی امنیتی» هوکړی لپاره وتړی، اشاره کوی. دکابل اوواشنګټن ترمنځ ددی دوه مخیزو همکاریو لپاره د«اوږدی مودی» قید ذکر شوی.

په نومړی برخه کې دیادشویو ټکیو نه پورته امریکا افغانستان ته دمرستو وعده ورکوی، اومرستی هم په امنیتی برخه پوری تړلی دی. په دی برخه کی دخندا وړ دغه جمله هم لیکل شوی چی : امریکا په افغانستان کی ددایمی هډو په لټه کی نده! اودافغانستان ګاونډیانو ته هیڅ ګواښ نه متوجه کوی،ولی څوکربنې وروسته بیا واشنګټن په دی ټینګارکوی چی پرافغانستان یرغل ته به په پوځی توګه ځواب ورکوی.

دلته مونږ نه غواړوچی دنوموړی تړون په جزیاتو خبری وکړو، همدایوه جمله ویل بس دی چی دامریکی تیرلید ته په کتو، دغه هیواد کولای شی چی هرکله وغواړی خپل دایمی شتون ته اوپه ګاونډیانو دیرغل لپاره یو بهانه پیداکړی.

په هرحال، ددی څو غوښتنو چی په دریمه برخه کی یادی شوی، کومی چی واشنګټن له کابله په یوجانبه توګه طرح کړی، اوآن چی خپلی مالی مرستی یی هم په هغوی پوری تړلی، د۵۸ په شاوخواکی کربنې په تشریفاتی اوبی بنسټه جملاتو ډکی کړی.

په څلورمه اوپنځمه برخه کی امریکی دافغانستان له ګاونډیانو سره ددی هیواد داړیکو لپاره پولی ټاکلی اودمالی بنسټونوسره ییپل ، اقتصادی مرستو اودزده کړو بورسونو په هکله یی تیاره وعدی سپارلی.

په شپږمه برخه کی، امریکی تلویحا ویلی چی په افغانستان کی به په پراختیایی چاروستقیما څارنه ولری. ددوو اړخیزکمسیون جوړونه چی دنوموړی تړون په عملی کولو به څارنه وکړی، همدارنګه ددی تړون داعتباردمودی(۲۰۲۴کال) اودهغی دغزولو، ددی تړون په اوومه او اتمه(وروستی) برخه کی راغلی. ددی نه پورته یوڅو کربنې دحقوقی مسایلودشکل په هکله هم شته. ولی دتړون دڅلورمی برخی له پیله بیا دهغی تر وروستی جملی پوری ۹۵ کربنو ته رسیږی.

### د ډوکه کولو لپاره لفاظی

دتړون له ټولو ۲۰۰کربنو څخه ۸۰ سلنه(۱۶۰) کربنې همدی له بنسټه پرته، درواغو اوغولونکو لفاظیو ته ځانګړی شوی.

ددی ۱۶۰ کربنو په ترڅ کی که څه هم دی خبرو لکه«دواړی غاړی» او« متقابل احترام» څخه استفاده شوی، مثلا دڅلورمی برخی په لومړی کربنه کی داسی راغلی:« دواړی غاړی دافغانستان سره دهغی دګاونډیو به دوستانه اواغیزمنو اړیکوپه ارزښت بنه پوهیږی او.......» په ټولو دغو مواردو کی عاقد( دامریکی متحده ایالتونه) زیار باسی ترڅو داسی وښیی چی ګواکی دواړی غاړی دسیاسی ارادی له مخی یوشان وزن لری اوهره غاړه دتړون دموادو به مساویانه عملی کولو باندی مکلف دی.

په داسی حال کی چی ټول په دی بنه پوهیږو چی په عملی ډګر کی داسی نه ده، هرکله چی نومړی کلمه ذکر شوی، عاقد دوه موخی لری: یا داچی دکابل حکومت لپاره یی سورخط کش کړی، دمثال په توګه افغانانو ته ووایی چی له دی وروسته باید دایران سره ستاسی اړیکی تردی کچی پوری وی اوله هغی وانه وړی اویا غواړی مخاطب اویا دافغانستان خلکوته یوڅه ډاډ ګیرنه ورکړی.کله چی «دواړی غاړی دیوبل ملی حاکمیت ته درناوی کوی» خبره ذکرشی نو امریکا په یوډول دافغانستان خلکو ته ددوی دملی حاکمیت ساتنی اوهغی ته ددرناوی کولو ډاډګیرنه ورکوی.

دامریکی ځواک او په نړی کی دهغی هژمونی سیاست ته په کتوسره، دافغانستان دولت باید دامریکی همیشنی مداخلی ددی هیواد په کورنیو چارو کی باید دزړه له کومی ومنی اوکه دامریکی ډول ته ونه نڅیږی نوله واشنګټن

ځخه به یو ډالر هم ترلاسه نکړی. په افغانستان کی لوړی اوفقر ته اوهمدارنګه ددی هیواد کمزوری لاندینی جوړښت(زیربنا) ته په کتو به دغه پیلتوب نور هم ژورشی.

## روښانه ټکی

په ریښتیا سره که چیری له نومړی تړون ځخه دغه دعام غولونی برخی لیری شی، اوورسته ددغه تړون متن په افغانستان اوپه ګاوڼدیو هیوادونو کی عامه افکارو ته واچول شی نو ځه به پیښ شی؟ په یقین سره ویلای شوی چی دخلکو غبرګون به دومره زورور وی چی ټولنیزی چاودنی به رامنځ ته کړی. دامریکی اوافغانستان دستراتیژیک تړون روښانه برخوځخه لاندینی برخی ته پاملرنه وکړی:

«امریکه دخپلو ورکړل شویو ژمنو خلاف په ۲۰۱۴کال کی خپل پوځونه له افغانستانه نه وباسی، بلکه اوس یی پټیلی چی ۱۰کاله نوربه هم دلته خپل پوځونه ساتی اووروسته به دغه حضور نورهم وغزول شی. افغانستان باید په یوه تحت الحمایه هیواد بدل شی اوکه نه له ډالرو ځخه هیڅ ځرک هم نشته. افغانستان که له امریکی نه دپیسو غوښتونکی دی نو کورنیوچارو اوهم له ګاوڼدیانو سره په اړیکو کی باید دواشنګټن اوامرباید ګام پا ګام ترسره کړی. دکابل دولت باید په سیمه کی دامریکی ددښمنانو پروړاندی دامریکی ترڅنګ ودریږی اوهراړخیزی مرستی وکړی او دافغانستان خپلواکی، ملی حاکمیت او ځمکنی بشپړتیا په همدی مرستو پوری تړلی دی. دکابل دولت باید دګاوڼدیانو سره په اړیکو ټینګولو کی دسپینی مانی خبرو ته غوږ ونیسی نه دخپل ولس غوښتنوته!

آیا له دی پرته بل ځه کیدای شی چی داټکی دافغانستان دولس غوږ ته ورسیږی ځه ناری سوری به جوړی شی؟

## کوم ملی حاکمیت؟

امریکه په واروار داخبره غوږ ته رسوی چی دافغانستان ملی حاکمیت ته درناوی کوی اوترټولو زړه وړونکی خو داخبره ده چی دکابل واکمنان او دکرزی استازی (رنګین داد فرسپنتا) په واشنګټن کی دغه تړون دکابل حکومت او آن افغان ولس ته یوه لویه لاس ته راوړنه ووبلله.

داچی دسپینی مانی چارواکی دی ستراتیژیک پیمان ته رنګ اوروغن ورکوی دحیرانتیا خبره نده، ولی کله چی ددوی خبری دکابل دچارواکو لخوا تکراریږی انسان حیرانوی.

دډیرو سیاستوالو لپاره دا منل شوی اصل دی چی دخپلی چوکی اوځواک دساتلو لپاره هرځه کوی چی افغان سیاستوال هم له دی ځخه ځانګړی ندی. ولی افغان سیاست وال نه یوازی چی دخپل موقف په ټینګولو پسی دی داهم انګیری چی هیواد به یی دپرمختګ په لور چټک ګامونه واخلی؟ داپه داسی حال کی ده چی دپرمختګ لپاره په امریکی تکیه کولو نظریه لا دوخته خپل وجاهت(ریښتینوالی) له لاسه ورکړی.

دنړیوالو اړیکو پر بنسټ هیوادونه په څو ډلو ویشل کیږی: شریک(اندیوال) هیوادونه لکه جرمنی، جاپان، فرانسه اونور، مشتری هیوادونه لکه صیهونیستی رژیم ، تایوان ، سویلی کوریا او دریم داوسنی وضع مخالف هیوادونه لکه ایران اوکیوبا.

دکابل دولت چارواکی په غالب ګومان ځانونه دمشتری هیوادونو په ډله کی شمیری چی دډالرو دراروان سیل په بدل کی هرډول شرایطو ته غاړه ایږدی، که ځه هم دغه دغه شرطونه(دستراتیژیک تړون شرطونه) نورډیر تحمیلی شرطونه له ځانه سره لری. دځواکمن کیدو اوډالرو دغی تلوسی دکابل چارواکو سترګی دهرځه په وړاندی تړلی دی.

## خیالی مانۍ

افغانستان دخپلې ودې لپاره باید ترهرڅه دوړاندې په خپلو خلکو ډېره ولګوي اوددې هیواد سیاسي تاریخ ته که ځیرشو نو کله چې دبهرنیانو پښه ترمنځ وي، خلک نور آرام نه کښیني،په دې توګه بې ثباتي په یوه لاعلاجه ناروغۍ بدلیږي. طبیعي ده چې یوه بې ثباته ټولنه دبهرني مرستو راکښولو ته په هیڅ توګه چمتو نه ده.

ښاغلي کرزي به ښایي پوه وي چې دنړیوالو اړیکو مشتریان دستراتیژیکو خدمتونو په بدل کې چې امریکې ته یې کړي خپله مزدوري ترلاسه کړي. که له دې ټکي خبر وي، نو دامنطقي پوښتنه راولاړیږي چې کرزي ځان اوخپل هیواد دکوم چوپړ لپاره چمتو کوي؟ داهیواد چې دلوړې ځخه په رنځ اخته دی دواشنګټن لپاره څه جذابیتونه لري، یا په بل عبارت امریکه دافغانستان نه دکوم ځانګړي چوپړ تمه لري؟

صیهونیستي رژیم چې دامریکې دپوځ په یوه ښاخ بدل شوی اوله نور پوځ سره یې توپیر دادی چې په دایمي توګه په سیمه کې پروت دی. دی رژیم دفلسطین ځمکې اوبیت المقدس ترخپلې لاندې کړې او په سیمه کې دامریکایي نظم ساتونکي دی اوله اسلامي خوځښتونو سره مبارزه کوي.

له دې نه پورته ، دیهودو قوم چې په تیرو لسیزو کې په اروپاکې دکړکیچ عامل ګرځیدلی و، په ۱۹۴۸ کال کې داسراییلو دنامشروع دولت په جوړیدو دغه کړکیچ منځنی ختیځ ته ولیږدول شو اودغه کړکیچ کولای شي چې داسلامي ټولنو دپرمختګ پوتانسیل همیشه له ستونزو سره مخ کړي.

دغه ځانګړی کارلړ نه دی، دتایوان ټاپو هم دسویل ختیځې آسیا په سیمه کې دچین پروړاندې همدا ماموریت لري، په ۱۹۴۹ کال کې په چین کې د«مائوتسه تونګ» ترمشرۍ لاندې دکمونیستي انقلاب په پایله کې ،تایوان چې تردې وخته دچین یوه برخه وه دخپلواکۍ اعلان وکړ اوله خپلې مورنۍ ټاټوبې څخه جلا شو.

## له ګاونډیانو سره دایمي دښمنی

افغانستان که څه هم دزیرمو له پلوه دومره بډای نه دی اودامریکایي شرکتونو لپاره دامن ټاټوبی هم نه دی اونه دومره وکړي لري چې دامریکایي کالیو لپاره دپیرودلو بازار جوړکړي ولې له دریو خواو څخه افغانستان امریکې ته ددلچسپۍ وړدی:

۱- دغه هیواد کولای شي چې دمنځنۍ آسیا لویې سیمې ته دامریکې دروازه وګرځي.۲- افغانستان به دنوی منځنی ختیځ دکانسرټ یوه برخه وګرځي.۳- دغه هیواد دامریکې لپاره دیوه ځانګړي ژئوپولتیکي ارزښت درلودونکی دی چې شاوخوایي دچین، روسیې، هند، ایران اوپاکستان شتون لري.دکومو هیوادونو لپاره واشنګټن ځانګړي حسابونه خلاص کړي اوددوی په هکله ډیرې سوداوې په سرکې لري.

ددې ځرنګندونو سره، هغه خوب چې امریکې دافغانستان لپاره لیدلی او دستراتیژیک تړون پواسطه غواړي هغه قانوني کړي، افغانستان به په یوه لوی څو اړخیزه ځارګریز مرکزبدل شي.

هغه مرکزونه اولښکرکوټونه چې ځارګریزې چارې ترسره کوي ډیرو پوځیانو ته اړتیالري، یوازې همدا ۳۰ زره پوځیان چې یادون یې شوی، بس دي. البته دکابل حکومت اودهغې پوځ باید هم په همدې ټکې سره راټول شي. یعنې دافغانستان پوځ باید د۱۹ اوشلمې پیړۍ په هغو پوځونو اوړي چې دخپل ولس اوخپلو پولو څخه دساتنې په ځای ددیکتاتورو نیواکګرو په پولیسي ځواک بدلیږي.

په ټول ستراتیژیک تړون کې دطالبانو اویا د«ملاعمر» یادونه نده شوې په داسې حال کې چې دالقاعدې نوم څو څو ځله ذکرشوی، داپه ډاګه کوي چې امریکه طالبانو ته نور ددښمن په سترګه نه ګوري اویوازې دالقاعدې سره

جګړه لري. نومړي تګلاره نه یوازې دطالبانو سره دسولې خبرو ته دامریکې لیوالتیا ښیي بلکه داهم څرګندوي چې امریکا دافغانستان دراتلونکې لپاره ډېر خوبونه ویني.

امریکا دمګړي په دې خبره غور اوفکر کوي چې طالبانوته دیوه باوري شریک په توګه حساب خلاص کړي. دامریکې چارواکي نه یوازې په دې چې دطالبانو پروړاندې کمزوري شوي دي خبرې ته پراختیا ورکوي بلکه رام شوي طالبان ددوی لپاره کټ مټ په سعودي کې دوهابیت دغورځنګ سره پرتله کوي ، چې ټول پوهیږو چې دوهابیانورژیم په سیمه کې په امریکې ترټولو ډېر وابسته(پیيلی) دی.

امریکایان فکر کوي چې د رام شویو طالبانو پواسطه کولای شي په افغانستان کې خپلو موخو ته ورسیږي ترڅو چې دیوه ټاکل شوي حکومت سره کاروکړي. دلته یوازې داکار بس دی چې دپردو ترشا طالبان راکړي ورکړي ته وهڅوي، ترڅو رام شي. امریکا که خپلې دغې موخې ته ورسیږي نو دافغانستان جګړه به هم پای ته ورسیږي او دتیرو ۱۱ کلنو جګړو بریالی به هم امریکه وي.

دافغانستان پر وړاندې دامریکې دډیپلوماسۍ همدی بدلوني کرزي اودهغه حکومت وارخطاکړي او ټینګارکوي چې دطالبانو سره په هرډول خبرو کې باید دوی له پامه ونه غورځول شي.

دستراتیژیک تړون دمتن خپراوي او دامریکې اوافغانستان ددواړو جمهورو رییسانولخوا دهغه لاسلیک کول په غیر مستقیمه توګه دطالبانو په ګټه دي او دمخالف اپوزیسیون ترمنځ یې ژوردرز رامنځ ته کړي.

**پایله:**

داسې ښکاري چې افغانستان له دریو لسیزو جګړو څخه وروسته غواړي دخپل نوي عصر لومړنی ډبره کښیږدي. مسلما که داډبره کېږه کښینول شي، نوري څو لسیزې به هم دغه هیواد سوله اوپرمختګ ونه ویني. افغانان وایي چې په داتیرو ۱۱کلونو کې امریکې دهیڅ وړي ګیډه نده مړه کړي اونه یې دزیربنا لپاره کومه هڅه کړي، ولې ددې پرځای یې جګړه اودملکي خلکو وژنه په لاره اچولې او دمخدره توکیو تولید هم لس چنده ډېر شوی.

داسمه ده چې افغانستان تیل نلري او سرمایې او پیسو ته اړتیالري. ولې دکابل چارواکي باید په دې پوه شي چې داپیسې امریکې ته دډیرودرندو شرایطو په بدل کې ورکول کیږي کوم چې دپرمختګ پرځای به په دې هیواد کې دبې ثباتۍ اوګډوډیو سبب وګرځي.

له دې نه پورته، دامریکې سره نژدې اړیکې به دافغانستان دګاونډیانو سره منطقي اوطبیعي اړیکې هم له منځه یوسي ، کابل به په واشنګټن پوري وپیيل شي . دامریکې متحده ایالتونه که هرڅه وهم غواړي ولې دهغې شرایطو ته په کتو به ونشي کړای بې حسابه پیسې دکابل حکومت ته ورکړي.

که څه هم کرزي اودده پشان نور چې په ۲۰۰۱ کال کې دامریکې په ملاتړکابل ته دننه شول او واک ته ورسیدل، اړدي چې دې تړون ته غاړه کښیږدي اویا کم ترکمه دتړون اودخلکو دمخالفت ترمنځ جوړجاړي رامنځ ته کړي.

کوم شیان چې دوی په واکمنۍ کې ګواښوي هغه د طالبانو حملې اودپیسو نشتوالی او تشه خزانه ده.

دادري مجبوریتونه یعنې: پیيل توب(وابستګی)، دطالبانو حملې او تشه خزانه دي چې ددوی دواکمنۍ ددوام لپاره دوی دتړون په وړاندې مقاومت نه کوي او تسلیمږي

په هرحال ، ستراتیژیک تړون دهغه دافغاني پلویانو لپاره یو لوی قماردی، که چیرې امریکه وکولای شي دسیمه ایزو پاڅونونو څخه اودخپلو اقتصادي ستونزو نه بریالی راووزي نو کیدای شي افغانستان ته هم یو څه پاملرنه

وکړی اوڅه ډالر کابل ته واستوی. ولی که چیری دامریکی په دننه او منځنی ختیځ اوټوله نړی کی حالات نورهم کړکیچن شی، نو په دی صورت کی دکابل چارواکو هرڅه بایللی دی.(پای)